ليکوال: سرلوڅ مرادزی نېټه ۲۲-۰۲-۲۰۱۱

# جلال آباد د دوښمن د سترګو اغزی

جلال اباد کې د فبروری د ۱۹ نېټي پېښه چې هغې کې د روستيو راپورونو له مخي ۳۸ تنه شهيدان او څه له پاسه ۷۰ تنه ټپيان شول، پخپل ډول کې بيخي خونړی پيښه ګڼل کيږي. اوه تنه طالبان د هېواد د امنيتي ځواکونو په جامه کې د جلال اباد ښار تر ټولو دنګې او مدرنې ودانی يانې کابل بانک ته ورننوځي، د بانک ساتونکي وژني او درې تنه يې د بانک په انګړ کې ځانونه الوځوي او داپېښه رامنځته کوي چې ډيری قربانيان يې د ننګرهار عام وګړي دي.
ننګرهار او په تېره بيا جلال اباد ښارچې د سوله پالو او هېوادپالو ننګريانو په مټ هېواد کې نسبتآ امن ځای دی ، تل د افغانستان د تاريخي دوښمنانو د سترګو اغزی ګڼل کيږي.
ننګرهار د هېواد د هر بل ځای مخکې په ۱۳۵۰ کلونو کې د ملي مشر شهيد سردار محمد داود د واکمنۍ په مهال د ای ايس ای او پنجابي پوځي يرغلګرو د شومو چلوټو او توطيو هدف وګرځيد. مذهبي ترهګر او توند لاري چې د پېښور په بالاحصار کې د نصيرالله بابر لخوا روزل شوي او وسلوال شوي وو، د ننګرهار د کامې، سره رود، کوزکونړ، خوګيانيو او شينوارو په ولسواليو کې يې، ښوونکي ووژل، له ځينو يې غوږونه او پزې غوڅې کړې او په ځينو يې په وچه سرونه وښريل. له ننګرهار او کونړ روسته بيا لغمان او پنجشېر ته ورشېوه شول او له همغه مهاله يې په ټول افغانستان کې د مذهبي توندلاری او بېلاری او شرارت تخم وکاره.
افغانستان د ننګرهار له لارې د ۵۰ کلونو په پای کې د ای ايس ای د استادانو سي ای ای (CIA) تر مستقيم نظر او ګواښ لاندې راغی. د ولسمشر جيمي کارتر او روسته بيا د ريګن ستر سلاکار بريژنسکي هغه لومړی امريکايي و، چې د خيبر په دره کې يې د ټوپک له ميلې څخه د افغانستان د اوضاعو جارج واخيست، ای ايس ای او مجاهدين يې په شا وټپول او د افغانستان په ورانۍ کې يې هغوی ته د هر ډول مرستي سينه ووهله.
کوم جهاد چې د نصيرالله بابر لخوا د شهيد سردار داود خان د واکمنۍ پر وړاندې پيل شوی و، د بريژنسکي لخوا خپل بشپړتيايي دوهم پړاو ته ورپورته شوو او په دغه ټوله لوبه کې ننګرهار او جلال اباد د هېوادپالو او پنجابپالو، سوله پالو او جګړه مارو، د پرمختګ او روڼ اندو او د شاتګ او مذهبي متحجرو ترمنځ د ټکر او مبارزې سنګر او مورچل وو.
د ننګرهار هره لوټه او ډبره؛ هره ډېره او حجره؛ هر کلی، بانډه او دره د پنجابيانو او د هغوی د تالي څټو د توی شويو او بهيدلو وينو حکايه کوي.
پنجاب د ټولو ماتو او رسواييو سره سره، د افغانستان په وړاندي له يرغل څخه لاس وانه خيست او په ۱۳۶۷ کال د کب په ۱۶ مه يې د جلال اباد په لور مستقيم يرغل پيل کړ. ددې يرغل په اړه د افغانستان پخواني او شهيد جمهور ريس ډاکتر نجيب الله په ۱۳۶۸ کال د ثور مياشتي په لويه جرګه کې د خپلې وينا په يوه برخه کې وايي « د پاکستان پوځی مقاماتو يوخوا د افراطيونو وسله والی تقويی ته لاس اچولی او بلخوا خپل پوځی ځواکونه د افغانستان پولوته نژدی کوی. اوس د پاکستان عسکری فرقی او مليشه او سعودی اجيران د جلال آباد پر خلاف جنګ کی عملاً برخه اخلی او د جبهی تر شا، د پاکستان د پولسمی او اتلسمی فرقی لخوا يی کمک او ملاتړ کيږی.»
هيڅوک تاريخ په تېره بيا په ۲۱ مه پيړی کې په ډېډه نشي وهلای . وګورئ د يوه نجيب او سپيڅلي افغان د هغه مهال ځرګندوني نن د پاکستان واکمنان په خپله خوله بيانوي « تاند د فبروري۲۰: ولسمشر اصف علي زرداري په اسلام اباد کې د يوې وينا پر مهال له ځينو هغو رازونو پرده پورته کړه چې د شوروي ځواکونو له وتلو وروسته په افغانستان کې د جګړو د اوږديدا سبب شول.

ښاغلي زرداري وويل د دهٔ ميرمن بينظير بوټو چې هغه وخت ( ۱۹۸۹ ) د پاکستان لومړی وزيره وه له دې سره سخته مخالفه وه چې پر جلال اباد دې د افغان مجاهدينو له خوا بريد وشي.

پاکستاني ولسمشر زياته کړه چې د دهٔ ميرمن هغه وخت يوازې پاتې شوه او ځينو کسانو يې خبره ونه منله او ويې ويل چې په يوې اوونۍ کې به جلال اباد او په ۲۵ ورځو کې به کابل نيسي.

ښاغلي زرداري د دغو کسانو نوم وانه خيست خو ويې ويل چې دغه کسان هغه وخت د ادارو پر مهمو څوکيو ناست ول.


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

په پاکستان کې د "ادارو" کلمه عموماً پوځ، ای ایس ای او د استخباراتو نورو څانگو ته کاریږي. ولسمشر زرداري په دې پریکړه کې د امریکایانو لاس هم یاد کړ او ویې ویل چې امریکایان هم وو»
که څه هم زرداري غوښتي چې خپله میرمن بینظیر بوټو او د پیپل گوند نور واکمنان په دغو پیښو کې سپین چرگان وښيی ، خو ټول پوهیږي چې د زرداري د گوند لوړپوړو چارواکو لاسونه هم د افغانانو په وینو ککړ دي.
همدارنگه د ۲۰۰۸ کال د می په میاشت کې یو مرکچي د حاجي ولي محمد په نوم اسلام اباد کې د ریاض محمد خان سره چې د پاکستان د باندینیو چارو وزارت منشي و مرکه کړې وه، نوموړی د مرکې یوه برخه کې وایي «د ډاکتر نجیب الله د لوري موږ ته یو شمېر د سولي وړاندیزونه راغلل، خو مجاهدینو نه منل. د پاکستان پخواني ولسمشر غلام اسحاق خان هم د ټولټاکنوپه اړه څووړاندیزونه ورکړل خو مجاهدینو یو لا هم ونه مانه . موږ په افغانستان کې د یوه عبوري حکومت د جوړولو پرېکړه کړېوه، د جلال آباد د جنگ ناکامی دا کار د خنډ سره مخامخ کړ. »
د رسنیو د روسټیو مالوماتو له مخې، هند د کشمیر له سنگر څخه خپل یو څه پوځونه ایستلي. پنجاب ته بیا ښه مهال په لاس ورځي چې دوی هم له کشمیر څخه د هند په وړاندې خپل پوځونه وباسي او هغه د افغانستان په لور ځای پرځای کړي . د افغانستان په لور د پنجاب د همدغو پوځونو د ځای په ځای کولو پلان سره سم، د جلال اباد، خوست او کندهار په دریواړو جبهو کې د ترهگرو فعالیت زیاتیږي او د کابل د سیټي سنټر د روسټی پیښي ترڅنگ په دریواړو ولایتونو کې موږ د روسټیو خونړیو پیښو شاهدان یو.
که جلال اباد او یا د افغانستان هر بل ښار په اور کې سوځي، پنجاب ځان په هیڅ بیه له گنا او ختا نشي بچولای. د افغانستان په هره ورانی کې د نورو ترڅنگ د پنجاب لاس حتمي دی.

پای

اخځونه :
ببلا ببلې بریښپاڼې


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ